اونیزه مجله :339
WEEKLY BOOKLET:339

# د مکې زیارتونه

## د امیرِ اهلسُنَّت سره

(د امیرِ اهلِ سُنَّت عُمره 2023ء مع تحریرات)

پاڼې 30



ٹھنڈی ٹھنڈی ہوا حرم کی ہے
خوب رحمت برستی رب کی ہے

پیشکش:
(دعوتِ اسلامی)
المدینه العلمیه
Islamic Research Center

# چې مدینه دې اونه لیدله نو هیڅ دې اونه لیدل

**شیخ عبدُ الحق مُحَدِّثِ دِهلوي** رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہِ فرمائي: چې کله څوک مسلمان د زیارت په نیت مدینے منورې ته راځي نو فرښتې د رحمت په تحفو سره هغه ته هرکلے وائي. (جذب القلوب، ص211)

د امیرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي ضیائي دَامَتۡ بَرَکَاتُہُمُ الۡعَالِیَہ د عمرې سره د مدینے منورې حاضرې (2022) د رسالې نه پس، روان کال (2023) کښې د امیرِ اهلِسُنَّت د مدینے په سفر لیکلې رساله، په نوم "**د مکے زیارتونه د امیرِ اهلِسُنّت سره**" ستاسو سره په لاس کښې موجوده ده. د مختلفو ویډیوګانو وغیره نه د حاصل کړے شوو معلوماتو په رڼا کښې دا سفرنامه جوړه کړے شوې ده، دې سره سره د موقعې په مناسبت سره د امیرِ اهلِسُنَّت د خوش قسمتو عاشقانِ رسول په نوم د لیکلے شوو لیکونو عکسونه هم وړاندې کیږي، که **الله** پاک اوغوښتل نو د دې په غور سره لوستل به د هغه یادګارو ساعتونو خوندوره عکاسي اوکړي. **الله** کریم دې مونږ ته د امیرِ اهلِسُنَّت د مکے او مدینے د عشق برکتونه رانصیب کړي او بیا بیا دې راته د حج او د مدینے زیارت راعطا کړي. کاش چې هر کال د امیرِ اهلِسُنَّت سره د حَرَمَینو طیبینو د حاضرۍ په خیر او عافیت سره سعادت رانصیب شي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

دکھا دے ایک جھلک سبز سبز گنبد کی — بس اُن کے جلووں میں آجائے پھر قضا یارب
مدینے جائیں پھر آئیں دوبارہ پھر جائیں — اِسی میں عمر گزر جائے یاخدا یارب

طالبِ غمِ مدینه و بقیع و بے حساب مغفرت
ابو محمد طاهر مَدَني عطاري عُفِیَ عَنۡهُ

(شعبه : هفته وار رساله مطاله)

المدینةُ العِلمیة (دعوتِ اسلامي) Islamic Research Center

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د مکے زیارتونه د امیرِ اهلِسُنَّت سره (دسمبر کال 2023)

**دُعائے خلیفهٔ امیرِ اهلِسُنَّت:** یا **الله** پاکه! څوک چې دا رساله "**د مکے زیارتونه د امیرِ اهلِسُنَّت سره**" اولولي یا واوري هغه ته بیا بیا د مکے او مدینے زیارت نصیب کړې او هغه ته حج مقبول نصیب کړې او بے حسابه یې جنَّت الفردوس ته داخلیدل نصیب کړې. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دُعا قبلیږي (د دُرُود شریف فضیلت)

**د آخري نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** ټولې دعاګانې په پرده کښې وي تر دې پورې چې د هغې په شروع کښې د **الله** پاک **حمد** (یعنې تعریف بیان) کړے شي او په نبي اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې دُرُودِ پاک اولیږلے شي بیا دُعا اوکړے شي نو د دُعا کوونکي دُعا قبلیږي. (القول البدیع، ص222)

ہے سب دعاؤں سے بڑھ کر دعا دُرُود و سلام     کہ دَفع کرتا ہے ہر اِک بَلا دُرُود و سلام

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مکے نه یمن ته

په مکه مُکرمه کښې عبد الرحیم یا عبد الرحمان نومې یو نیک کَس اوسیدو، هغهٔ به هر وخت د **الله** پاک عبادت کولو. عظیم تابعي بزرګ، حضرت امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به د **الله** پاک د رضا د پاره د هغه سره محبت فرمائیلو. هغه د مکے مکرمې نه یمن ته د تللو اراده اوکړه، حضرت امام حسن بصري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه چې خبر شو نو هغه ته یې هم په مکه مُکرمه کښې د پاتې کیدو ترغیب ورکړو او یو خط یې ورته اولیکلو په کوم کښې چې د قرآني آیتونو او حدیثونو مبارکو په رڼا کښې د مکے مکرمې د فضیلتونو بیان وو. (1) (د هغه خط څه حصه خلاصةً وړاندې کیږي.)

---

[1]... په مکه مکرمه یا مدینه منوره کښې د مستقل اوسیدو اختیارولو په باره کښې د اهمو معلوماتو د پاره د امیرِ اهلِ سنّت کتاب "**عاشقانِ رسول کی130 حکایات**" صفحه 196 اولولئ، دا کتاب د دعوتِ اسلامي د ویب سائټ www.dawateislami.net نه مفت ډاؤن لوډ کیدے

## د حضرت امام حسن بصري رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ خط

حضرت امام حسن بصري رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ليکي: بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم! اے زما ورورہ! **اللّٰه** پاک دې ستاسو حفاظت اوفرمائي او تاسو دې د هر ناخوښه څيز نه محفوظه اوساتي او د نورو نيکو کارونو توفيق دې درعطا کړي او په خپل رحمت دې مونږه په جنَّت کښې يو ځائے کړي.

اے زما ورورہ! **اللّٰه** پاک دې تاسو ته ډير عمر عطا کړي، زه خبر شوے يم چې تاسو د امن د ځائے حرم شريف نه يمن ته د تللو اراده لرئ. په خدائے مې دې قَسم وي! زه په دې خبره ډير غمژن شوم.

زه ستاسو سوچ ته حيران يم چې **اللّٰه** پاک تاسو ته په مکه مکرمه کښې د پاتې کيدو سعادت عطا کړے دے خو تاسو د دې ځائے نه د تللو اراده کوئ حالانکه تاسو ته خو د **اللّٰه** پاک شُکر ادا کول پکار دي چې هغۀ تاسو ته په خپل اَمن والا ځائے حرم کښې ځائے عطا کړے دے.

اے زما ورورہ! تاسو د دُنيا د شرف او عظمت په لحاظ سره په بهترينه او د **اللّٰه** پاک په ډيره خوښه زمکه باندې يئ لهٰذا د دې ځائے نه د تللو په باره کښې سوچ مه کوئ. **اللّٰه** پاک دې مونږه او تاسو ته د ښو اعمالو توفيق رانصيب کړي. (فضائل مکه،ص12ماخوذاً)

تیرے گھر کے پھیرے لگاتا رہوں میں   سدا شہر مکہ میں آتا رہوں میں
میں لیتا رہوں بوسہ سنگِ اَسود   یُوں دِل کی سیاہی مٹاتا رہوں میں
الٰہی میں پِھرتا رہوں گردِ کعبہ   یوں قسمت کی گردش مٹاتا رہوں میں
لِپٹ کر گلے لگ کے میں ملتَزِم سے   گناہوں کے دھبے مٹاتا رہوں میں
حطیمِ حرم میں نمازوں کو پڑھ کر   تیرے در پہ دُکھڑے سُناتا رہوں میں
میں پیتا رہوں ہر گھڑی آبِ زَم زَم   لگی اپنے دِل کی بجھاتا رہوں میں
صفا اور مروہ کے مابین دوڑوں   سَعی کر کے تجھ کو مناتا رہوں میں
تُو شر سے پناہ دے مقدر ہو ایسا   کہ بس خیر ہی خیر پاتا رہوں میں

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

شي.

# د اميرِ اهلِسُنَّت د عمرې مبارکې د پاره روانيدل

شُکرِخدا کہ آج گھڑی اُس سفر کی ہے جس پر نِثار جان فلاح و ظفر کی ہے

اَلْحَمْدُلِلّٰه! په اتلسمه جمادي الاولىٰ 1445 هجرئ، دريم دسمبر کال 2023 د کُل په مبارکه ورځ اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ، د نګرانِ شوریٰ حاجي محمد عمران عطاري دامظله او حاجي علي رضا عطاري [1] سره د هغوئي [يعنې د علي رضا عطاري] وړوکي ځوي حسن رضا عطاري سَلَّمَهُ البارِي د مختصرې قافلې په شکل کښې د عمرې د پاره روان شو. د روانيدو نه مخکښې په ژړغونې حالت کښې اميرِ اهلِسُنَّت څه داسې ارشاد اوفرمائيلو:

حاجي عمران (نګرانِ شوریٰ) زمونږه د دې مَدَني قافلې امير دے. اَلْحَمْدُلِلّٰه! ما د رفيق الحرمين نه د مدينے د سفر د پاره نيتونه کړي دي. اوس به مونږ د ائير پورټ په لور ځو، د کور نه د وتو په وخت يــې دا شعرونه په خُله مبارکه باندې جاري وو:

مُدعا زِيست کا میں نے پایا رحمتِ حق نے کیا پھر سایہ
میرے آقا نے کرم فرمایا پھر مدینے کا بُلاوا آیا
پہلے کچھ اشک بہا لوں تو چلوں اک نئی نعت سُنا لوں تو چلوں

سیدی انتَ حبیبی

شُکر میں سر کو جُھکانے کیلئے داغ حسرت کے مٹانے کیلئے
بختِ خوابیدہ جگانے کیلئے اُن کے دربار میں جانے کیلئے
اپنی اوقات بنا لوں تو چلوں اک نئی نعت سُنا لوں تو چلوں

سیدی انتَ حبیبی

---

[1] ... د حاجي علي رضا بهائي تعلق د پنجاب، پاکستان سره دے او هغوئي د اميرِ اهلِسُنَّت خدمت کوي.

سامنے ہو جو درِ لطف و کرم  یوں کروں عرض کہ یا شاہِ اُمم
آگیا اُپ کا محتاجِ کرم  اس گنہگار کا رکھئے گا بھرم
شوق کو عرض بنا لوں تو چلوں  اک نئی نعت سُنا لوں تو چلوں

سیدی انتَ حبیبی

## د ائیر پورټ په لور روانیدلو کښې شعرونه او د شوق نه ډک حالات

امیرِ اهلِسُنَّت د عرب اَمارات (دُبئ) نه حجازِ مقدس ته روانیدلو د پاره ائیر پورټ ته د تللو په وخت په ګاډي کښې سترګې پټې کړې وې او دا شعرونه یـې وئیل.

ارے زائرِ مدینہ! تو خوشی سے ہنس رہا ہے  دل غمزدہ جو پاتا تو کچھ اور بات ہوتی
غم روزگار میں تو مرے اشک بہہ رہے ہیں  تیرا غم اگر رلاتا تو کچھ اور بات ہوتی
میں جو یُوں مدینے جاتا تو کچھ اور بات ہوتی  کبھی لوٹ کر نہ آتا تو کچھ اور بات ہوتی

(وسائل بخشش، ص391)

## په ګاډي کښې د نعت ګو شاعر سید اقبال عظیم صاحب کلام

د مدینے په لور چې د شوق نه ډک ساعت وي نو ډیره زیاته خوشحالي وي. امیرِ اهلِسُنَّت په ګاډي کښې ډیر په ذوق او شوق سترګې پټې کړې وې او مختلف شعرونه یـې وئیل، په دغه وخت کښې هغوئي د نابینا نعت ویونکي شاعر، سید اقبال عظیم صاحب د ډیر مشهور کلام یو څو شعرونه اولوستل. په دې حالت کښې ټول سفر اوشو.

مدینے کا سفر ہے اور میں نم دیدہ نم دیدہ  جبیں افسردہ افسردہ قدم لغزیدہ لغزیدہ
چلا ہوں ایک مجرم کی طرح میں جانبِ طیبہ  نظر شرمندہ شرمندہ بدن لرزیدہ لرزیدہ
کسی کے ہاتھ نے مجھ کو سہارا دے دیا ورنہ  کہاں میں اور کہاں یہ راستے پیچیدہ پیچیدہ
مدینے جا کے ہم سمجھے تقدس کس کو کہتے ہیں  ہوا پاکیزہ پاکیزہ فضا سنجیدہ سنجیدہ

بصارت کھو گئی لیکن بصیرت تو سلامت ہے مدینہ ہم نے دیکھا ہے مگر نادیدہ نادیدہ
وہی اقبال جس کو ناز تھا کل خوش مزاجی پر فراقِ طیبہ میں رہتا ہے اب رنجیدہ رنجیدہ

## د ائیر پورټ په لور روانیدل او دُعائے عطّار

د تیر کال د سفر په شان په دې کال هم د امیرِ اهلِسُنَّت په دعاګانو کښې د کمزورئ په سبب په ویل چیئر د طواف کولو په ځائے د پیدل طواف کولو دعا شامله وه او هُم دا دعا هغوئي په سفر کښې وخت په وخت کوله. د کور نه ائیر پورټ ته د تللو په وخت هغوئي په بارګاهِ الٰهی کښې عرض اوکړو: یا **الله** پاکه! همیشه چې کله هم ستا د کور طواف کووم چې پیدل یې کووم، په ویل چیئر یا په سورلئ باندې نه بلکې ستا په راکړے شوې طاقت چې ستا د رضا د پاره په خپلو ښپو د ګرځیدو سره طواف اوکړم.

ہر برس کاش! آکے مکّے میں لطف اٹھاؤں طواف کا یارب

(وسائلِ بخشش، ص84)

## د اِحرام نیّت

خلیفۂ امیرِ اهلسُنَّت په دې کال هم د امیرِ اهلسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه نه مخکښې عرب شریف ته سَره د کور والو حاضر شوے وو. په جده شریف کښې د لږ آرام او خوراک څښاک نه پس امیر اهلسُنَّت اِحرام اوتړلو او خوشبو یې اولګوله او د احرام نفل یې ادا کړل، بیا د عمرې د نیت وخت شو، هغوئي په ټولو باندې د عمرې نیت اوکړو. (1)

## زم زم شریف او د امیر اهلِسُنَّت دُعا

امیرِ اهلِسُنّت چې په کوم کور کښې پاتې کیدو هلته د احرام تړلو او د احرام د نفلو ادا کولو نه پس هغوئي د عمرې نیت اوکړو او په ولاړه یې مخ په قبله زم زم شریف اوڅښلې، بیا یې حدیثِ پاک بیان کړو: دا زم زم شریف چې په کوم نیت (یعنې د کوم مُراد حاصلولو په نیت) اوڅښلے شي دا د هغې د پاره دي. (ابن ماجه،3/490،حدیث:3062)

(د زم زم شریف د څښلو نه پس هغوئي څه داسې دُعا اوکړه:) یا ربِّ مصطفٰے جَلَّ جَلَالُهٗ و صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! کرم اوکړې، بے

... [1] که نیَّت هم د جَدَّې شریف د تللو وي نو بیا د اِحرام حاجت نشته- (رفیق الحرمین، ص325)

حسابه مو اوبخښې، زمونږه مور پلار، زما بال بچ، زمونږه ټوله کورنۍ اوبخښې، هر دعوتِ اِسلامي والا نارینه او زنانه اوبخښې. ټول اُمَّت اوبخښې.

چې کله یـې د کمرې نه بهر تشریف راوړلو نو په ژړا ژړا، په روانه روانه یـې په خُله باندې دا دُعا جاري وه. اِلٰهَ الْعٰلَمِیْن! مونږ د حَرم په لور روان شوي یو، د رحمت نظر راباندې اوکړې! یا **الله** پاکه! زمونږ تلل آسان کړې، زمونږ رسیدل آسان کړې او دا قبول هم کړې. بس رحمت، رحمت، رحمت راباندې رانازل کړې. بیا یـې په ډیر ذوق او شوق کښې په خوشحالۍ دا شعر وئیلو او د حَرم شریف په لور وړاندې روان شو.

چلا ہوں ایک مجرم کی طرح میں جانبِ کعبہ نظر شرمندہ شرمندہ ، بدن لرزیدہ لرزیدہ

## د حَرم حدودو ته داخلیدل

د سفر په وخت یـې په خُله باندې تلبیه "لَبَّیْكَ، اَللّٰهُمَّ لَبَّیْكَ، لَبَّیْكَ لَا شَرِیْكَ لَكَ لَبَّیْكَ، اِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَ الْمُلْكُ، لَا شَرِیْكَ لَكْ." جاري وه. چې کله ګاډے د حَرم حدونو ته نزدې شو او د څه فاصلې نه یـې علامات ښکاره شول نو هغوئي د ځان سره موجودو ملګرو ته اوفرمائیل: دا مخامخ په مېن روډ چې کوم ګول محرابونه ښکاري، دې ته د دننه داخلیدو سره به حرم ته داخل شو. اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! ډیر زر به مونږ حَرم ته داخل شو، **الله** کریم دې په خپل رحمت سره په ایمان او عافیت سره داخلیدل رانصیب کړې. (اٰمین)

ٹھنڈی ٹھنڈی ہوا حرم کی ہے بارِش اللہ کے کرم کی ہے

امیرِ اهلِسُنَّت چې د حرم حدونو ته داخل شو نو [پخپله هُم او] په خپلو موجودو اِسلامي ورونړو باندې یـې دا دُعا اولوستله: اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ لِّیْ قَرَارًا وَّ ارْزُقْنِیْ فِیْهَا رِزْقًا حَلَالًا ترجمه: اے **الله** پاکه! ما ته په دې کښې قرار او رزقِ حلال راعطا کړې. (رفیق الحرمین، ص 90)

میں مکّے میں پھر آگیا یاالٰہی کرم کا ترے شکریہ یاالٰہی

## طواف او سعي

د کعبةُ اللهِ الـمشرفه د طواف او سعي کولو په وخت یـې مختلف دُعائیه شعرونه په خُله باندې

جاري وو او وخت په وخت یـې د سترګو نه اوښکې رواني وې...

## حلق یا تقصیر (1)

امیرِ اهلِسنّت په 19 جمادي الاولیٰ 1445 هجرئ، 4 دسمبر کال 2023 د عمرې شریف پوره کولو نه پس د حلق سُنّت ادا کړل او څه داسې یـې د **الله** پاک شُکر ادا کړو: اَلْحَمْدُلِلّٰه! د **الله** پاک ډیر لوئي کرم اوشو بغیر د ویل چیئر نه په خپلو ښپو د طواف او سعي سعادت رانصیب شو. د **الله** پاک چې څومره احسان اومنلے شي، کم دے.

**مَدَنِي ګل:** په حلق کولو کښې ډیر ثواب دے ځکه چې د حلق کوونکو د پاره مَـدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې کَرَته د رحمت دُعا فرمائیلې ده البته قصر هم کیدے شي ځکه چې مَـدَني سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم [د قصر کوونکو د پاره] یو ځل "د رحمت دُعا" فرمائیلې ده. (بخاری،574/1،حدیث:1728ماخوذاً)

## جنّتُ الْمُعَلّٰی

امیرِ اهلِسُنَّت د عمرې شریفې ادا کولو نه پس په مکه مکرمه کښې د اوسدیو په وخت د بعضې مقدسو ځایونو د زیارتونو د پاره حاضر شو په هغې کښې یو یادګار د زیارت ځائے **جنّتُ الْمُعَلّٰی** شریف دے. امیرِ اهلِسُنَّت څنګه د دې مبارکې هدیرې تعارف اوکړو، راځئ چې هغه اولولو:

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د مکے مکرمې د ښکلې ښکلې سحر سپرلې دي او مونږه د مکے مکرمې د ټولو نه لویه هدیره "**جنّتُ الْمُعَلّٰی**" کښې حاضر یو. د دې مبارکې هدیرې پخوانے نوم "**مقابرحجون**" او مشهور نوم یـې "**جنّتُ الْمُعَلّٰی**" دے. په دې هدیره کښې د ټولو مسلمانانو خوږه خوږه مور جانه، حضرت بي بي **خدیجةُ الکبریٰ** رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، صحابي رسول حضرت عبدُ الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا او نور ډیر صحابه کرام او تابعین او تبع تابعین او اولیائے کاملین آرام فرمائي. **الله** پاک دې د دې ټولو په وسیله مونږه بے حسابه اوبخښي او د دوئي په فیوضو او برکتونو دې مونږه ټول مالا مال کړي. مونږه دې نیک پرهیزګاره، عاشقِ رسول، عاشقِ صحابه او عاشقِ اهلِ بیت جوړ کړي او

---

...(1) اِسلامي وروڼو دې حلق کوي یعني د سَر ټول ویښته دې خریوي یا دې تقصیر کوي یعني کم ازم کم څلورمه (1/4) حصه د سَر ویښته دې د ګوتې د بند برابر کټ کوي. اِسلامي خوئیندې دې صِرف تقصیر کوي. (رفیق الحرمین،ص196،197)

تهول اُمَّت دي اوبخښي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## دننه مه ځئ

په جنّتُ المُعَلّٰی شريف کښې موجود مزارونه ګنبد وغيره اوس شهيد کړے شوي دي، مزارونه شهيد کړے شوي دي او په هغه ځايونو لارې ويستلے شوې دي. لهٰذا بهر اودرېږئ او داسې سلام عرض کړئ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَاِنَّا اِنْ شَآءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُوْنَ ط نَسْئَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ

ترجمه: سلام دې وي په تاسو باندې اے په قبرونو کښې اوسيدونکو مومنانو او مسلمانانو! او مونږه هم اِنْ شَآءَ الله ستاسو سره ميلاويدونکي يو، مونږه د **الله** پاک نه ستاسو او خپل عافيت غواړو.

## مسجدِ جنّ

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا وخت مونږه په مکه مکرمه کښې په مشهوره هديره **جنّتُ المُعَلّٰی**" کښې په "**مسجدِجن**" کښې حاضر يو. دا هغه تاريخي جومات دے چرته چې د مدينے د سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د سحر په نـمونځ کښې د قرآنِ کريم د تلاوت اوريدو سره څه پيريان مسلمانان شوي وو. (عاشقانِ رسول کی 130 حکایات، ص 230)

## بوډا پيرے

حضرت سهل بن عبدُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه يو **بوډا پيرے** اوليدو، هغه پيري يوه بيش بها ښکلې چغه [جُبَّه] اغوستې وه او د بيت الله شريف په لور يې مخ کړے وو او نـمونځ يې کولو، د هغه په سلام ګرځولو هغوئي هغه ته سلام اوکړو، بوډا پيري د سلام جواب ورکړو او اوئې وئيل: تاسو دې چغې [جُبّې] ته حيران يئ! دا چغه [جُبَّه] د تيرو 700 کالو نه زما سره ده، ما په دې چغه [جُبَّه] کښې د حضرت سيدنا عيسیٰ روحُ الله عَلَيْهِ السَّلَام ديدار کړے دے، په هُم دې کښې مې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے، مُحَمَّد رَّسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زيارت سعادت حاصل کړے دے. او نور واورئ، زه په هغه پيريانو کښې يم د کومو په باره کښې چې **سُوْرَةُ الجن** نازِل شوے دے. (صفة الصفوه. 357/4. بلد الامين. ص 128)

## مسجدُ الرَّایَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا وخت مونږ د مکے مکرمې د مشهور جومات "مسجدِ الرَّیه" زیارت کوو. اَللّٰهُ اَکْبَر! رحمتونه رانازلیږي. په عربئ کښې "رایه" جنډې ته وئیلے شي او د فتحِ مکه په موقع باندې زما خوږ خوږ آقاء سردارِ مکه مکرمه، سرکارِ مدینهٔ منوره صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپله مبارکه جنډه دلته ښخه کړې وه، سُبْحٰنَ اللّٰه. (عاشقانِ رسول کی 130 حکایات ص 231)

## د دُعا قبلیدو ځائے

د **الله** پاک خوږ خوږ آخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې کوم کوم ځائے ته تشریف راوړے دے هلته دُعا قبلیږي، لکه څنګه چې اعلیٰ حضرت، امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: د حضورِ اقدس صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ټولو مَشاهدِ متبرکه کښې دُعا قبلیږي. (فضائل دُعا، ص136 بتغیر)

"**مَشاهد**" د مشهد جمع ده د کومې معنی چې "**د حاضریدو ځائے**" ده. (یعنې هغه ټول ځایونه چرته چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ظاهري ژوند مبارک کښې تشریف وړے دے.)

## دُعائے مصطفٰے صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او په مسجد الرایه کښې جامع دُعا

د مسجد الرایه په مبارک مقام کښې امیر اهلسُنّت په حدیثِ پاک کښې بیان کړے شوې دا جامع دُعا اوکړه، جامع دعا هغه وي د کومې الفاظ چې لږ وي او معاني یــې ډیرې وي. (مِرآة المناجیح، 299/3)

هغه دُعا دا ده: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

ترجمه: اے **الله** پاکه! مونږ ته په دنیا کښې خیر راعطا کړې او په آخرت کښې خیر راعطا کړې او مونږ د دوزخ د عذاب نه بچ کړې.

د خادمِ نبي، حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے، نبئ کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به اکثر دا دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ (بخاری، 214/4، حدیث: 6389)

## د عشقِ رضا جلوې

امیرِ اهلسُنّت په ګاډي کښې د تللو په وخت کښې د اعلیٰ حضرت، امام اهلسنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه دا شعر اولوستو او د دې تشریح یــې بیان کړه:

اے عشق تیرے صدقے جلنے سے چھٹے سستے
جو آگ بجھا دے گی وہ آگ لگائی ہے
(حدائقِ بخشش، ص194)

شرحِ کلامِ رضا: عاشقِ ماه رسالت، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه وائي: "اے عشقه زه په تا باندې قربان شم تهٔ هم خومره ښه نعمت يې، ستا دننه هم يو وور (يعني سوز) او يو قِسم له سوزيدل دي، د عشق وور د دوزخ وور مَړ کوي."

اللہ کیا جہنم اب بھی نہ سرد ہوگا رو رو کے مصطفیٰ نے دریا بہا دیے ہیں
(حدائق بخشش، ص102)

## مسجد خيف شريف او 70 انبياءِ کرام

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! دا وخت مونږ د مِنیٰ په ښکلې دَره کښې حاضر يو، د مِنیٰ د خيمو زړهٔ راښکونکے منظر او مشهور جومات "مسجد خيف" ښکلے ښکلے ځليږي، دا هغه مبارک جومات دے په کوم کښې چې د 70 انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام مزارونه دي. (معجم کبير، 316/12، حديث:13525)

اَلسَّلَامُ عَلَيۡكُمۡ يَا اَنۡبِيَآءَ اللهِ وَرَحۡمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهٗ

يا **الله** پاکه! په مِنیٰ شريف، مسجد خيف شريف او په دې کښې د آرام کوونکو انبياء کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلام او د هغوئي هم د آقا مُحَمَّد مصطفٰے، آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په وسيله باندې زمونږ حج نصيب کړې او د مِنیٰ شريف په هغه ورځو (يعني د حج په ورځو) کښې حاضرياني هم رانصيب کړې او زمونږ مور پلار اوبخښې، ټول اُمَّت اوبخښې. د فلسطين د مظلومو مسلمانانو غيبي مدد اوکړې. يا **الله** پاکه! په هغوئي باندې رحم اوکړې، په هغوئي باندې رحم اوکړې، په هغوئي باندې رحم اوکړې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

بڑا حج پہ آنے کو جی چاہتا ہے بُلاوا اب آئیگا کب یاالٰہی

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د اویاؤ انبیائے کرامو علیهم السّلام ځائے

د حُجَّةُ الوداع په موقع باندې د مکے مدینے تاجدار صلّی الله علیه واٰله وسلّم دلته نـمونځ ادا کړے وو. د مدینے د سلطان، رَحمتِ عالَمِیّان صلّی الله علیه واٰله وسلّم فرمان مبارک دے: صَلّٰی فِیْ مَسْجِدِ الْخَیْفِ سَبْعُوْنَ نَبِیًّا یعنې په مسجدِ خَیف کښې اویاؤ انبیائے کرامو (عَلَیْهِمُ السَّلَام) نـمونځ ادا کړے دے. (معجم اوسط، 117/4، حدیث: 5407)

په یو بَل روایت کښې یې اوفرمائیل: فِیْ مَسْجِدِ الْخَیْفِ قَبْرُ سَبْعِیْنَ نَبِیًّا یعنې په مسجدِ خَیف کښې د اویاؤ انبیائے کرامو (عَلَیْهِمُ السَّلَام) قبرونه دي. (معجم کبیر، 316/12، حدیث: 13525)

اوس دا جومات مبارک ډیر فراخه کړے شوے دے، د مزاراتو زیارت نشي کیدے. زائرینو له پکار دي چې ډیر په عقیدت او احترام سره د دې جومات مبارک زیارت کوي، او د انبیائے کرامو علیهم السّلام په خدمتونو کښې دې داسې سلام عرض کوي: اَلسَّلَامُ عَلَیْکُمْ یَا اَنْبِیَآءَ اللهِ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَکَاتُهٗ بیا دې ایصالِ ثواب کوي او دُعا دې کوي.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## خپل تعارف یې اوکړو (یوه واقعه)

د مکے مکرمې په ښکلو ښکلو کوڅو، سړکونو د تیریدو په وخت امیرِ اهلسنّت یو ډیر ښکلے مَدَني ګل ارشاد اوفرمائیلو: بعضې وخت غصه د بے وقوفۍ نه شروع شي او په پښیمانتیا باندې ختمه شي، ما ته یوه واقعه رایاده شوه چې په یو مشهور ګس باندې چا ښپه کیښوده نو هغه ډیره بدتمیزي اوکړه او کنځلې یې شروع کړې، په غلطۍ سره ښپه کیښودونکي خپل تعارف اوکړو چې ”زه فلانکے یم“ (یعنې هغه هم څوک شخصیت وو) نو چا چې کنځلې کړې وې، هغه ډیر پښیمانه شو او اوئې وئیل: که تاسو ما ته مخکښې وئیلے وے نو ما به ځان قابو کړے وے او داسې په بد اخلاقۍ سره به مې خبرې نه کولے نو هغه وړومبي ګس اووئیل: ما به خپل تعارف څنګه کړے وے، ځکه چې تاسو پخپله خپل تعارف شروع کړو (یعنې د بد اخلاقۍ کولو په ذریعه مو خپل تعارف کولو).

# د نه کولو خبرې اوکړي

په غصه کښې بعضې وخت انسان بالکل د قابو نه ووځي او بعضې وخت هغه خبرې هم اوکړي کومې چې د نه کولو وي، په حديثِ پاک کښې دي: په دوزخ کښې يوه دروازه ده، په کومه به چې هُم هغه خلق داخليږي د کومو غصه چې د **الله** پاک د نافرمانۍ نه پس سَړيږي. (شعب الايمان، 320/6، حديث: 8331)

**الله** پاک دې زمونږه سنجيدګي اختيارول او د غصې قابو کول نصيب کړي چې کله هم غصه راشي مونږ له هغه قابو کول پکار ده چې دا غصه مونږه په ګناه کښې اخته نه کړي. عظيم تابعي بزرګ حضرت حسن بصري رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: اے انسانه! ته په غصه کښې ډير اوچت لګې، چرته ستا دا ځل اوچتيدل تا دوزخ ته اونه غورځوي. (احياء العلوم، 205/3)

اے پیارے بھائی! غصے کی عادت نکال دے　　"غصّہ" کہیں نہ نار میں تجھ کو اُچھال دے

مونږ د **الله** پاک نه د دوزخ د عذاب او د غصې د تباهۍ نه پناه غواړو. **الله** پاک دې مونږه د حلم او معافۍ نه مالا مال کړي او نرمي دې راعطا کړي. **الله** پاک دې د مکے مکرمې د پاکو فضاګانو په وسيله مونږه د بے ځايه غصې نه اوساتي او مونږ دې امن والا جوړ کړي سلامتۍ والا مو دې جوړ کړي زمونږ نه دې خلقو ته راحت اورسي زمونږ نه دې خلقو ته تکليف اونه رسي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ہے فلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں　　ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# ميدانِ مزدلفه او د اميرِ اهلسُنَّت ارمان

ميدانِ "مزدلفه" ډير د نصيب والا ميدان دے ځکه چې دې ميدان ته د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جلوې نصيب شوې دي او د ښپو مبارکو ښکلولو سعادت يې نصيب شوے دے. د دې ځائے فضاګانو به د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم زُلفې مبارکې ښې ډيرې ښکل کړې وي، د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به يې ښې ډيرې نظارې کړې وي. کاش! کاش! چې الياس قادري د دې ميدانِ مزدلفه يوه ذره وے، انسان نه وے.

## مسجدِ اِجابه (1)

دا وخت مونږ ''**د مسجدِ اِجابه**'' سورې ته ولاړ یو. وئیلے کیږي چې دا هغه جومات دے چرته چې خوږ خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نـمونځ ادا کړے وو.

## د قبولیت ځائے او د فلسطین د عاشقانِ رسول د پاره دُعا

د خوږ آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې چرته (په ظاهري ژوند مبارک کښې) تشریف راوړل ثابت دي، هلته دُعا قبلیږي. یا **الله** پاکه! مونږه او هر دعوتِ اِسلامي والا نارینه او زنانه بے حسابه اوبخښې. یا **الله** پاکه! ټول اُمَّت اوبخښې. اے **الله** پاکه! دا د قبولیت ځائے دے، د فلسطین د مظلومو مسلمانانو غیبي مدد اوکړې، په هغوئي د رحمت نظر اوکړې، اے **الله** پاکه! هغوئي د ازمیښتونو نه رابهر کړې. اے **الله** پاکه! څوک چې هلته شهیدان شوي دي بے حسابه یـې اوبخښې، څوک چې د خپلو خپلوانو نه بے درکه شوي دي هغوئي د خپلو خپلوانو سره یو ځائے کړې. څوک چې زخمیان دي هغوئي له صحت ورکړې. د چا چې کور، دکان، زمکې، جائیدادونه وغیره تباه شوي دي، یا **الله** پاکه د هغې نعمَ البدل (یعني ښه بدله) ورعطا کړې. اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیِّیْن صَلَّی اللهُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

رسولِ پاک کی دکھیاری امّت پر عنایت کر
مریضوں، غمزدوں، آفت نصیبوں پر کرم مولیٰ
(وسائلِ بخشش، ص 99)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مدینے په لاره کښې د زیارت ځائے

د مدینے منورې په لور سفر شروع شو نو په مدینه روډ باندې د ''نَوارِیه'' په خوا کښې په سَرِف کښې د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت بي بي میمونه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا مزار دے دا مزار مبارک د مکے مکرمې نه بهر دے. مدینے ته تلونکے کاډے د یو اِسلامي ورور وو، امیر اهلِسُنّت د کاډې نه کوز شو او د مور جانې په خدمت کښې

---

... (1) په مکهٔ پاک او مدینهٔ پاک دواړو مبارکو ښارونو کښې په دې نوم باندې جومات دے.

يـې سلام عرض کړو او دُعا يـې اوکړه. دا مزار شريف د سړک په مينځ کښې دے. خلق وائي چې د سړک جوړولو د پاره د دې مزار شريف شهيد کولو کوشش اوکړے شو نو ټريکټر به اُلټا کيدو، د بے وسئ نه دلته چار ديواري جوړه کړے شوه. زمونږه د خوږې خوږې مور جانې حضرت بي بي ميمونه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہَا کرامت مرحبا!

اَہلِ اِسلام کی مادَرانِ شفیق بانُوانِ طہارت پہ لاکھوں سلام

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## ځئ چې مدينے ته ځو

د عمرې مبارکې او د مکے د زيارتونو نه پس عاشقِ مدينه امير اهلِسُنَّت د خپلې قافلې سره د مدينے په لور روان شو او په بارګاهِ رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کښې يـې ډير په ادب او شوق په ژړا ژړا د حاضرئ سعادت حاصل کړو.

## د مدينے منورې جُدائي

د عاشقِ مدينه اميرِ اهلِسُنّت د پاره د مدينے جُدائي ډيره سخته وي، امير اهلسنّت د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په جدايئ کښې ډير ژاړي. ډير غمزده حالت کښې بيرته په ګاډي کښې کښيناستلو او تقريباً په ټوله لاره يـې د "الوداع يا رسول اللّٰه" نعرې وهلې او په سلګو سلګو يـې ژړل. د رښتوني عاشقِ رسول صحبت د څه نعمتِ عظمیٰ نه کم نه دے، د دې صحبت نه فيض حاصلوونکي وړوکي حسن رضا هم د ائير پورټ پورې ژړل. امير اهلِسُنّت چې کله عرب اَمارات کښې خپل کور ته اورسيدو نو هغه وخت يـې هم د مدينے په جدايئ کښې زړهٔ سورے سورے وو او هغوئي د ديوال سره لګيدلے ولاړ وو او ژړل يـې. د اميرِ اهلسُنَّت دا حالت شايد چې د پنجابئ شعر کښې څه داسې بيانيدے شي.

او کیسیاں گھڑیاں سن مہمان ساں سوہنے دے
دل فیر وی کردا اے طیبہ دا سفر ہووے

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

امیر اهلِسُنَّت په دې ځل هم د حرمینِ طیبین په سفر کښې د یو څو اراکینِ شورىٰ او ذمه دارانِ دعوتِ اِسلامي په نومونو څه اولیکل. د عاشقِ مکه او مدینه، امیرِ اهلسُنَّت د قلم لیک د عشق رسول سره اولولئ. که **الله** پاک یـې درنصیب کړي نو د مکے او مدینے په یاد کښې اوښکې توئي کړئ.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد


یادِ سفرِ مدینہ
اللہ
صلوا علی الحبیب
صلی اللہ علی محمد
دعوتِ اسلامی زندہ باد (اٰمین)
(یعنی دعوتِ اسلامی سلامت رہے۔ اٰمین)
دعائے عطار
یا اللہ پاک! جو کوئی اپنے گھر، دُوکان، دفتر، گاڑی وغیرہ پر "دعوتِ اسلامی زندہ باد" لکھے اُس کو دُنیا و آخرت میں سلامت رکھ اور اُس کی ماں باپ سمیت بے حساب مغفرت فرما۔
اٰمین بجاہ خاتم النبیین صلی اللہ علیہ والہ وسلم
(حاجی عمران نگران شوریٰ کیلئے تحفہ)

يادِ سفرِ مدينه

په امارات ائرپورټ باندې د انتظار په وخت کړے تحرير

الله

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب
صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد


# دعوتِ اسلامي زنده باد (اٰمين)

(يعني دعوتِ اِسلامي دې سلامته اوسي. اٰمين)

دعائے عطاؔر: يا **الله** پاکه! څوک چې په خپل کور، دُکان، دفتر، ګاډي وغيره باندې "دعوتِ اِسلامي زنده باد" اوليکي هغه په دُنيا او آخرت کښې سلامت لرې او هغه سَره د مور پلار بے حسابه اوبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

(د حاجي عمران نګران شورىٰ د پاره تحفه)


ارشادِ امام ابن حجر عسقلانی رحمۃ اللہ علیہ:
”اللہ پاک کی نافرمانیاں اکثر اوقات نعمتیں زائل (یعنی کم یا ختم) ہونے کا سبب بنتی ہیں۔“
(فتح الباری ج ۱۱ ص ۳۰۳)
صلوا علی الحبیب
صلی اللہ علیٰ محمد
حاجی محمد علی (رکن شوریٰ) کی خدمت میں تحریری سوغات

یادِ سفرِ مدینه
(ایک: د امارات نه تر جدې مبارکې پورې د سفر په وخت)

الله

مزارِ مبارک
امام ابن حجر عسقلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه

ارشادِ امام ابن حجر عسقلاني رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه :

" د الله پاک نافرمانئ بعضې وخت د نعمتونو

د زائل (يعني کميدو يا ختميدو) سبب جوړيږي.."

(فتح الباري ج:۱۱، ص: ۳۰۳)

صَلُّوۡاعَلَى الۡحَبِيۡب

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د حاجي محمد علي (رکن شورىٰ) په خدمت
کښې ليکلې ډالئ...


اللہ
صحابی ابنِ صحابی حضرت عبداللہ بن عبّاس رضی اللہ عنہما کے
بارے میں کہا جاتا ہے کہ آپ کے پاس جب کوئی مہمان حاضر ہوتا
تو اس کو آبِ زمزم پیش کرتے اور جسے کھانا کھلاتے اُسے
آبِ زمزم بھی پلاتے ۔ (اخبارِ مکۃ للفاکہی 2/46 رقم: ۱۱۱۸، ۱۱۱۷)
صلّوا علی الحبیب
صلّی اللہ علیٰ محمّد

یادِ سفرِ مدینه

(ایک: د امارات نه تر جدې مبارکې پورې د سفر په وخت)

**الله**

د صَحابي ابنِ صَحابي حضرت عبد الله بن عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عنهُما په باره کښې وئیلے کیږي چې د هغوئي خوا له به کله یو میلمه راغے نو هغوئي به هغه ته **آبِ زم زم** وړاندې کولې او په چا باندې به چې یــې ډوډئ خوړله په هغه باندې به یــې **آبِ زم زم** هم ښښلې. (اَخبارِ مکّه لِلفاکهي ۲/۴۶، رقم: ۱۱۱۸، ۱۱۱۷)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب

صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد


اللّٰہ
مُعاف کرنے میں فائدہ ہے
حضرت امام احمد بن حنبل رحمۃ اللہ علیہ فرماتے ہیں:
اللہ پاک تیری وجہ سے کسی مسلمان کو عذاب دے
اس میں تیرے لئے کوئی بھلائی نہیں۔
(یعنی مُعاف کردینے میں تیرا کیا جاتا ہے) (سیر اعلام النبلاء ۸/۱۶۱)
صلّوا علی الحبیب صلّی اللّٰہ علیٰ محمّد


یادِ سفرِ مدینه
(ایک: د امارات نه تر جدې مبارکې پورې د سفر په وخت)

الله

# په مُعاف کولو کنبې فائده ده

حضرت امام احمد بن حنبل رَحْمَۃُاللہِ عَلَیْہ فرمائي: چې **الله** پاک ستا په وجه چا مسلمان له عذاب ورکړي په هغې کنبې ستا د پاره هیڅ خیر نشته. (یعني په مُعاف کولو ستا نه څه څئ) (سیر اعلام النّبلاء ۱۱/۱۶۱)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد


یادِ سفرِ مدینہ
امارات تا جدہ شریف
دورانِ پرواز کی تحریر
اللہ
دل کیلئے زیادہ فائدہ مند شے
حضرت محمد بن یونس رحمۃ اللہ علیہ فرماتے ہیں:
"میں نے صالحین (یعنی نیک بندوں) کے
ذِکرِ خیر سے زیادہ فائدہ مند
کوئی چیز دل کیلئے
نہ دیکھی"۔
(صفۃ الصفوۃ ص ۱۸)
صلوا علی الحبیب
صلی اللہ علی محمد
عبدالوہاب عطاری (رکنِ شوریٰ)
کیلئے تحریری سوغات

یادِ سفرِ مدینه

(ایک: د امارات نه ترجدې مبارکې پورې د سفر په وخت)

الله


# د زړۀ د پاره ډیر فائده مند څیز

حضرت محمد بن یونُس رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: " ما د صالحانو (یعنې نیکانو بندګانو) د ذِکرِ خیر نه زیات فائده مند بل څیز د زړۀ د پاره نه دے لیدلے." (صفّ صفّة الصّفوه، ص:۱۸)

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

د عبد الوهّاب عطار (رکنِ شورىٰ) د پاره لیکلې ډالۍ


اللّٰہ
میری خواہش ہے کہ "سفرِ مدینہ" میں
"بات چیت کم سے کم" کروں.
(تعاون کی درخواست ہے)
صلّوا علی الحبیب
صلّی اللّٰہ علیٰ محمد
الحمد للّٰہ الکریم ہمارا طیارہ دورانِ تحریر
جدہ شریف کے ایئرپورٹ پر اُتر چکا
3-12-23

یادِ سفرِ مدینه

اللّٰه

زما خواهش دے چې په "سفرِ مدینه" کښې "**خبرې ډیرې کمې**" اوکړم.

(د مرستې خواست دے)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب

صَلَّی اللّٰه عَلٰی مُحَمَّد

اَلْحَمْدُلِلّٰه الکریم زمونږه جاز د دې لیک په وخت د جدې مبارکې په ائیر پورټ کوز شوے دے


اللہ

تحریر حل ارجمہ شریف

ماہِ سفر مدینہ

میرے لئے سب سے اچھا تحفہ ہے: "سلام"

مدینہ

صحابیِ نبی حضرت ابو دَرداء رضی اللہ فرماتے ہیں: "مجھے میرے کسی مسلمان بھائی نے ایسا تحفہ نہیں دیا جو سلام سے زیادہ مجھے پسند ہو"۔ (الزُّھد للامام احمد بن حنبل ص ۱۱۶ دار الکتب العلمیہ، بیروت)

حاجی محمد اسلم عطاری (رکن شوریٰ) خانپور والے کی خدمت میں تحریری سوغات۔

صلُّوا علَی الحبیب
صلَّی اللہ علیٰ محمَّد

تحریر جِل (جده شریف)

الله

یادِ سفر مدینه


# زما د پاره د تولو نه ښه تحفه ده" "سَلام"

صحابيِ نبي حضرت ابو دَرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: "ما ته زما یو مسلمان ورور داسې څه تحفه نه ده راکړې کومه چې د **سَلام** نه زیاته زما خوښه وي." (الزُّهد لِلامام احمد بن حنبل، ص: ۱۱۶) دارالکتب العلمیه، بیروت)

د حاجي محمد اسلم عطاري (رکن شورئ) خانپور والا په خدمت کښې لیکلې ډالئ.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد


یادِ سفرِ مدینہ
(تحریرِ جل (جدّہ شریف))
اللہ
غم دُور ہوں اور عقل بڑھے
حضرتِ امام شافِعی رحمۃ اللہ علیہ فرماتے ہیں:
جو اپنا لباس صاف رکھے اُس کے غم کم ہوجائیں گے
اور جو خوشبو لگائے اُس کی عقل بڑھے گی۔
(احیاء العلوم (اردو) ج ۲ ص 561)
صلوا علی الحبیب
صلی اللہ علی محمد
خوشبو

یادِ سفرِ مدینه
(تحریر چل (جدّه شریف)

اللّٰه

# غم به لږ شي او عَقل به زيات شي

حضرت امام شافِعي رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہ فرمائي:

څوک چې خپلې جامې صفا ساتي د هغه غمونه به کم شي او څوک چې خوشبوئي لګوي د هغه عَقل به زيات شي. (احياء العلوم (اردو) ج:۵، ص: ۵٦۱)

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب
صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد


یادِ مدینہ
تحفۂ مدینہ

اللّٰہ

ایک فرمانِ آخری نبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم میں یہ بھی ہے:
"جس نے مدینہ کی تنگدستی اور سختی پر صبر کیا میں قیامت میں اُس کی شفاعت کروں گا یا اُس کے حق میں گواہی دوں گا۔" (مجمع الزوائد ج۳ ص۶۵۷، حدیث ۵۸۱۹)

واہ! کیا بات مدینے کی

رکنِ شوریٰ حاجی محمد فاروق جیلانی
کی خدمت میں سوغات ہے

صلّوا علی الحبیب
صلّی اللہ علیٰ محمد

یادِ مدینه
تحریرِ مدینه

اللّٰه


د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په يو فرمان کښې دا هم دي: ''چا چې د مدينے په تنګ لاسئ او سختئ باندې صبر اوکړو زه به د قيامت په ورځ د هغه شفاعت کووم يا به د هغه په حق کښې ګواهي ورکووم.'' (مجمع الزّوائد، ج: ۳، ص: ٦٧٥، حديث: ۵۸۱۹)

واه! څه به وائيئ د مدينے

د رُکنِ شورىٰ حاجي محمد فاروق جيلاني په خدمت کښې ډالئ...

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد


ٹھنڈی ٹھنڈی ہوا عرب کی ہے
خوب رحمت برستی رب کی ہے
یادِ راہِ مدینہ
تحریر: راہِ مدینہ
مکے کی گرمی کی فضیلت
فرمانِ آخری نبی صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلّم:
" جو شخص دن کے کچھ وقت مکّے کی گرمی پر صبر کرے
جہنّم کی آگ اُس سے دُور ہو جاتی ہے۔"
صلّوا علی الحبیب
صلّی اللہ علیٰ محمّد
(رکنِ شوریٰ حاجی بغداد رضا کیلئے سوغات)
(الحمد للہ الکریم مکۂ پاک سے مدینۂ پاک
ہماری گاڑی رواں دواں ہے)

الله

یادِ راہِ مدینه
دیادِ مدینه لیکہ

ٹھنڈی ٹھنڈی ہوا عرب کی ہے
جو بار رحمت برستی رب کی ہے

# د مکے د ګرمۍ فضیلت

د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان:


”کوم ګس چې د ورځې څه وخت د مکے په ګرمۍ باندې صبر اوکړي د دوزخ وور د هغه نه لرې شي.“

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

(د رکن شورئ حاجي بغداد رضا د پاره ډالۍ)

(اَلْحَمْدُ لِلّٰه الکريم د مکے مکرمې نه د مدينے منورې په لور زمونږ ګاډے روان دے)


سنّت کی فضیلت
فرمانِ آخری نبی صلی اللہ علیہ والہ وسلم
"جس نے میری سُنّت سے محبت کی اُس نے مجھ سے محبت کی اور جس نے مجھ سے محبت کی وہ جنّت میں میرے ساتھ ہوگا۔"
(ابنِ عساکر ج ۹ ص ۳۴۳)
صلوا علی الحبیب صلی اللہ علی محمد
الفراق والفراق اے پیارے آقا الفراق پھر بلا لو جلد آقائے مدینہ
(رکن شوریٰ الحاج سیّد لقمان شاہ صاحب کی خدمت میں تحریری سوغات)

آه! مدينه رانه پاتې شوه

الله

# د سُنَّتو فضيلت

د آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک: " چا چې زما د **سُنَّتو** سره **محبت** اوکړو هغه زما سره **محبت** اوکړو او چا چې زما سره **محبت** اوکړو هغه به په **جنَّت** کښې زما سره وي." (ابنِ عساکر، ج:۹، ص:343)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب

صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

اَلفِراق وَالفِراق اے پیارے آقا الفِراق پھر بُلا لو جلد آقائے مدینہ الوداع

(د رکن شوریٰ الحاج سیّد لقمان شاه صاحب په خدمت کښې ليکلې ډالۍ)


آہ! میں مدینہ چھوڑ آیا
آہ! فرقتِ مدینہ
دوسروں کے عیب مت ڈھونڈو
مسلمانوں کے دوسرے خلیفہ حضرت عمر فاروقِ اعظم رضی اللہ عنہ فرماتے ہیں: "دوسروں کے عیب ڈھونڈنے سے بچنے والے کو اپنے عیبوں کی اصلاح کی توفیق ملتی ہے۔" (المنبہات)
مکے کی حسیں شام کی دیکھوں میں بہاریں
پھر دیکھوں مدینے کی شہا! صبحِ دل آرا
27-12-23
صلوا علی الحبیب
صلی اللہ علی محمد
(حاجی وقار المدینہ کی خدمت میں سوغات)

آہ! مدینه رانه پاتې شو

الله

آہ! فرصتِ مدینه

# د خلقو عیبونه مه لټوئ

د مسلمانانو دویم خلیفه حضرت عمرِ فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ فرمائي: "د خلقو د عیبونو د لټولو نه بچ کیدونکي ته د خپلو عیبونو د اصلاح توفیق نصیب کیږي." (المُنَبِّهَات)

مکے کی حسین شام کی دیکھوں میں بہاریں
پھر دیکھوں مدینے کی شَہا! صُبحِ دل آرا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب
صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

(د حاجي وقار المَدینه په خدمت کښې ړالیٔ)

# هفته واره رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت الحاج ابو اُسَید عُبَید رضا مَدَني مدّ ظلّه العالی له طرفه هره هفته د یوې رسالې لوستلو یا اوریدلو ترغیب ورکولے کیږي. ما شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِیْم! لاکهونه اسلامي ورونه او اسلامي خویندې دا رساله لولي یا اوري او د امیرِ اهلِ سُنّت او خلیفهٔ امیرِ اهلِ سُنّت د دعاګانو حقدار جوړیږي. دا رساله په آډیو کتبې د دعوت اسلامي د ویب سائټ

www.Dawareislami.net یا د Read and listen Islamic book ایپلي کیشن نه فري داؤن لوډ کیدے شي. د ثواب په نیّت یې پخپله هُم لوَلئ او د خپلو مرحومینو د ایصالِ ثواب دپاره یې تقسیموئ هُم.

(هفته واره رساله مطالعه)

978-969-722-605-4
01082464

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی
+92 21 111 25 26 92
0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net